کله چې اوبه د دوه چاټيو (قلتينو) په اندازه وي نه ناپاکه کېږي

له عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی وايي چې: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د هغو اوبو په اړه پوښتنه وشوه چې کورني او ځنګلي حيوانات ورته په پرلپسې توګه راځي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «کله چې اوبه د دوه چاټيو (قلتينو) په اندازه وي نه ناپاکه کېږي».

[صحيح دی] [أبو داود، الترمذي، النسائي، ابن ماجه او أحمد روايت کړی دی]

له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د هغو اوبو د پاکوالي په اړه پوښتنه وشوه چې کورني او وحشي حيوانات تري څښاک کوي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې اوبه د دوه لويو چاټيو په اندازه وي چې د (۲۱۰) ليترو په اندازه کېږي، نو دا ډېرې اوبه دي او نه مردارېږي، مګر دا چې د نجاست له امله يې له درويو اوصافو څخه په يو کې بدلون راشي چې هغه رنګ، خوند او بوی دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/8357